د مولانا عبدالقدوس قاسمي د مقدمهٔ خیرالبیان تنقیدی جاج

محمد بلال[*]

روحینه نجات[†]

Abstract

Khair ul Bayan is a historical book of Pashto literature written by Bayazid Ansari, also known by Pir Rokhan and Pir Tarik. Due to his special Spiritual thoughts, he became very controversial among other conventional schools and attracted severe criticism. By that very reason his literature disappeared from the literary landscape of the subcontinent. After a long search and struggle, Khair ul Bayn was found by Maulana Abdul Qadir in Tubingen University, Germany and published by Pashto Academy Peshawar with its foreword by Maulana Abdul Qaddus Qasmi.

This foreword offers insights into the scholarly worth of this much structured, though naïvely, spiritual master. It has settled the dust of skepticism and misconceptions that kept the illuminous face of Bayazid obscured for a long time.

This is a sincere effort to objectively conduct a thorough investigation into those misconceptions and skepticism highlighted in the foreword.

تنقید د تحقیق ورمبۍ پوړۍ ده او د ژوند په هر میدان کښې د پرمختګ بنیادي وصیله ده۔ که چرې د تنقید ماده د ژوند او ادب نه حذف کړے شي نو هېڅ به هم پاتي نهٔ شي، یعنې چې په کوم ځاے کښې او څنګ انسان پېدا شوے، هم هغلته به پاتي ؤ۔ د ازل نه راوخله تر وسه پورې چې انسان کومه ترقي او مزل کړے دے او کوي روان دے، هم دا ټول د تنقید برکت دے۔ دې برکت ته ارواښاد سردار حبیب الرحمان داسې اشاره کړې:

"د تنقید یا د جاج له برکته بني آدم تش دې ځائے ته نهٔ دے رسېدلے بلکه لا په مخ روان دے او خپله ځپلۍ ئې، سپوږمۍ او مریخ ته غوزار کړې ده۔"[1]

تحقیق او تنقید د یو بل سره تړلي دي، که یو طرف ته تحقیق د ډېرو باریک بینیانو او دقیق لټون نه پس د یو مسئلې یا موضوع متعلق د نوې او قدرې درست معلوماتو وړاندې کولو نوم دے نو بل طرف ته تنقید د دغه معلوماتو د غېر جانبداره جاج او ستائېنې نوم دے چې د دې په مرسته د دغه وړاندې شوي کار او طریقهٔ کار په جدید اصولو جائزه واغستلے شي او د دغه شوي کار هغه فني اړخونه چې د کومو د بهترۍ او ستائېنې ضرورت دے وړاندې کړے شي۔ تنقید صرف د ادیب یا د فن پارې په خامیانو پسې د لیتکي رڼاکولو نوم نهٔ دے بلکې تنقیدیو فن پارې ته د رسېدو د پاره د پوهې لار ښکارکوي چې د هغې په مرسته د ډېرو ادبي

---

[*] M.Phil Scholar Department of Pashto University of Malakand

[†] M.Phil Scholar Department of Pashto University of Malakand

سوالونو زړۀ پورې جوابونه کېږي. تنقيد د عربۍ ژبې ټکے دے، چې لغوي معنا ئې کره کوټه معلومول دي او پۀ ادب کښې دا ټکے د انګريزۍ ژبې د کرټسزم مترادف دے.[2]

دنورو ژبو د ادب پۀ شان د پښتو ژبې ادب هم د تنقيد پۀ بنياد وده کړې او لا روانه ده کوې. د پټې خزانې د رواياتو تر مخه خو د پښتو ادب تاريخ ډېر زوړ دے خو ولې د اثارو د نښتوالي پۀ وجه پۀ يقين سره دا نۀ شي وئيلے چې څومره زوړ دے؟ که پۀ دې حواله وګورو نو د "تذکرۀ اولياء" چې د سلېمان ماکو(۶۱۲هـ) تاليف دے[3]، څو پاڼې عبدالحئ حبيبي موندلي دي[4]. د دې څو پاڼو نه علاوه تر(۹۰۰هـ)خواوشا پورې د پښتو ادب زمکه شړه وه. د ادب د زمکې دا شړوالے هم پۀ دغه دوره کښې يو نابغه شخصيت بايزيد انصاري بن عبدالله قاضي بن شيخ محمد(۹۳۱هـ)[5] د خيرالبيان او د نورو ډېرو مهمو اثارو پۀ کرونده ختم کړے، د بايزيد انصاري دغه تمام اثارخصوصاًخيرالبيان چې ډېر مهم کتاب وُ ،تر ډېر وخته پورې د پوره بره صغير نه داسې ورک کړے شو لکه د پښتنو امن. د ډېر زيار او تړو نه بعد خو دا کتاب د جرمني د ټيوبنګن يونيورسټۍ د لائبرېرۍ نه د ډاکټر کريمر او ډاکټر پيرټ پۀ مرسته د مولاناعبدلقادر د زړۀ پورې زياراو لټون نه بعد د هغه پۀ لاس نړۍ ته رابنکاره شو[6]، خو د پښتنو امن لا هغسې ورک پټ دے. او خدا ے خبر چې دا به کله او د چا پۀ زيار راپېدا کېږي؟خير البيان د بايزيد انصاري يو داسې تصنيف دے چې پۀ پوره پښتون نړۍ کښې ئې داسې انقلاب راوستے چې د هغې اندازه لګول که نامکنه نۀ دۀ، نو مشکله ضرور ده. لنډه دا چې دې کتاب د دين د تبليغ سره سره د پښتو ادب د پرمختګ دپاره هم داسې لار ويستې لکه د شېر شاه سوري جرنېلي سړک. بايزيد انصاري پۀ پښتنو کښې ورمبے سړے وُ چې هغۀ پۀ داسې وخت کښې کتابونه تحريره ول چې پۀ هغه وخت کښې د معلوم تاريخ تر مخه پښتون قام د ليک لوست نه ډېر نا بلده وُ. او بله دا چې بايزيد نۀ صرف کتابونه تحريره ول بلکې پۀ تحريري ډول ئې د وخت واکدارانو ته هم استول. دا هغه مقام دے چې د دې نه د بايزيد د علميت او پوهې اندازه کېدے شي. پۀ ژوندي قامونو کښې داسې خلقوته اولس، اداب پالان او اتلان وائې او زمونږ پۀ شان بغضي او تنګ نظره اولس ورته ګمراهان اوکافران.

خيرالبيان پۀ ډېرو حوالو سره ځانګړتيا لري، هغه حواله که د تصنيف او تاليف ده او که د تبليغ او تنقيد. کۀ د پښتو پۀ معلوم نثري ادب کښې د خيرالبيان مصنف ته د ورمبي اديب او اخون درويزه ته د خيرالبيان پۀ مقابل د "مخزن الاسلام" د ليکلو پۀ بنياد د ورمبي نقاد درجه ورکړے شي نو زياته به نۀ وي. که هر څو مخزن اخون درويزه د خپلې وينا تر مخه د خيرالبيان پۀ رد کښې تاليف کړے خو د يار محمد مغموم د وينا تر مخه د دغه مخزن د ليکلو سهره هم د بايزيد پۀ سر ده[7]. ځکه که بايزيد خيرالبيان نۀ وے ليکلے نو درويزه به مخزن د کومې ليکو ؟

خيرالبيان بايزيد پۀ ۹۲۸هـ کښې تاليف کړے او کومه نسخه چې د ټيوبنګن يونورسټۍ نه ترلاسه شوې د هغې کتابت فقير بهادر خان پۀ ۱۰۲۱ هـ کښې کړے دے.[8]

او دغه د فقیر بهادر خان کاتب نسخه پهٔ رومبي ځل پښتو اکېډمۍ پهٔ کال ۱۹۲۸ء او دویم ځل ۱۹۸۸ء کښې د صوبائي حکومت پهٔ مرسته د پروفیسر عبدالقدوس قاسمي د ۹۳ صفحو پهٔ ضخیمه مقدمه بیا د پښتو اکېډمۍ د طرف نه شائع کړو.

دا یو داسې جامع مقدمه ده چې پهٔ دې کښې د بایزید د ژوند او مبارزې داسې احاطه شوې ،چې د روښاني ادب او تحریک محققینو او متجسپسینو ته ډېر څه واضحه کوي او د تحقیق او جستجو دپار ورته نور هم ډېر څه وړاندې کوي. د خیرالبیان پهٔ مقدمه کښې مصنف ډېره خواري او محنت کړے او پهٔ دې چې مصنف پهٔ کوم وخت کښې کار او زیار کړے هغه د قدر وړ دے. خو ولې بیا هم دا خبره پټه نهٔ ده چې تحقیق یو ډېر لوے میدان دے او بیا هر تحقیق حتمي هم نهٔ وي بلکې د پرمختګ او نور تحقیق د پاره د مظبوط پل بنیاد جوړېږي دغه شان د خیرالبیان مقدمه هم ده چې د روښاني ادب د تحقیق دپاره مآخذ دے خو د دې باوجود پهٔ دې مقدمه کښې داسې ډېر څه موجود دي چې بحث ته اړتیا لري.

هسې خو عبدالقدوس قاسمي صیب مقدمه د شروع نه ډېره دلچسپه ده. خو د پښتنو د تاریخ چې پهٔ کوم طنزیه ډول احاطه کوې نو داسې درشن ورکوي چې ګني زهٔ پکښې شمېر نهٔ یم، هغهٔ داسې لیکي:

"پښتنانه وائي چې پښتون قوم ډېر زوړ او اوږد تاریخ لري او د پښتو د ادب سلسله د زرګونو کلونو راسې شروع ده خو د دې تاریخ کړې د مبنځ نه داسې ورکې دي چې اول سر ته د اخري ټوټې سره پیوند کول ډېر ګران شوي دي"[9]

د قاسمي صیب دا جمله چې" پښتانه وائي چې پښتون قوم ډېر زوړ او اوږد تاریخ لري " پهٔ خپل ځان کښې ډېر غټ مفهوم خوندي کوي. پهٔ دې کښې هغهٔ د قام پهٔ بې علمۍ او غیر سنجیدګۍ ماتم کوي. چې دا قوم خو پهٔ دې ویاړن دے چې مونږ پهٔ مخ د زمکه ډېر زاړه یو خوحقیقت ئې دا دے چې هیڅ رقم زوړوالے نهٔ لري. ځکه چې پهٔ تاریخ کښې داسې دعوه د څه بغیر دستاویزي ثبوتونو نه د اعتبار قابل نهٔ وي. او د دې حیثیت محض د افسانې نه بېرته هیڅ نهٔ وي.دلته د دې خبرې مطلب هر ګز دا نهٔ دے چې ګني پښتون قوم پهٔ رښتیا زوړ نهٔ دے. پهٔ مخ د زمکه چې پیدا دے نسب او تاریخ به خامخا لري خو د نورو قومونو پهٔ شان محفوظ او دستاویزي نهٔ .دلته دغه بنیادي نکته ده، چې قاسمي صیب بیان کړې . قومونه پهٔ تاریخ پېژندل شي او د دې د ټولو نه غټ مثال پهٔ دې خاوره پاتې شوے فرنګي استعمار دے چې هغهٔ د دې ځائے خپل تاریخ د رښتیا او دروغو نه قطع نظر داسې محفوظ کړے چې د خپل تاریخي حیثیت معلومولو دپاره ټول وطن او پهٔ تېره تېره پښتون قوم وس هم هغوي ته رجوع کوي.

قاسمي صیب که یو طرف ته د پښتون قوم پهٔ دغه کمزورۍ نیوکهٔ کوي چې دا قوم خپل تاریخ پهٔ خړه نهٔ لګوي نو بل طرف ته د هغه مخلصینو هم هغه شان ستائېنه او ډاډګېرنه، نهٔ کوي دکومې چې هغهٔ حقدار دي. بلکې اپوته پهٔ هغوي هم د طنز غشي وره وي لکه د حبیبي صیب پهٔ حواله هغهٔ داسې وائي:

"دحبيبي صېب پۀ شان يو څو ناکامي فاضلان ډېر پۀ زړۀ چاودون لړي لړي کړۍ رابرڅېره کوي۔ او لړي نه ئې د پښتوادب مشتاقانو ته ځله وي خو بويه چې ملبه به کله اوچتېږي او د دې لاندې نه به د تاريخ واضح ليک راڅرګندېږي" [10]

که حبيبي صېب پۀ هر څومره زړۀ چاودون دا لړي لړي کړۍ رابرڅېره کړې او لوستونکو ته ئې وړاندې کړې نو دا کومه بده خبره نۀ ده بلکې دا د فخر او وياړ خبره ده چې پۀ دې قوم کښې هم داسې دړد لرونکې موجود دي چې د خپل تاريخ او حېثيت د لټون د پاره هسې کوي، نو پۀ دې خاطر دا ناکام هرګز نۀ دے ،بلکه کامياب ترين فاضل دے۔

دا بحث د مقدمې د تمهيد پۀ اړه ؤ۔ وس رازو د مقدمې اصل موضوع طرف ته چې بايزيد انصاري دے۔ قاسمي صېب د بايزيد انصاري بن عبدالله د پېدائېش کال(۹۳۱ھ)[11] ليکي خو بعضې ليکوالانو مثلا اروابناد محمد نوازطاهر پۀ "روهي ادب" کښې[12] اوميان بهادر شاه ظفر کاکاخيل " پشتون تاريخ کے آئينے ميں" کښې (۹۳۲ھ) ليکلے دے [13]۔ خو زياتره محققينو دغه رائې غوره کړې کومه چې قاسمي صېب نقل کړې ده۔ د بايزيد د پلار شېخ عبدالله دوه ښځې وې، د يوې نوم بي بي امينه او دبلې نوم فاطمه ؤ۔ بي بي امينه د شېخ عبدالله د ورور کونډه وه چې د هغۀ د مرګ نه پس عبدالله پۀ جالندر کښې پۀ نکاح واخيسته[14]۔ خو دلته قاسيمي صېب د شېخ عبدالله د ورور نوم نۀ ذکر کوي چې د شېخ عبدالله دغه ورور څه نومېده؟ دا صرف دے نۀ بلکه د "روښانيان او پښتوادب" مصنف هم دا خبره داسې کوي[15] لکه څنګه چې عبدالقدوس صېب ذکر کړې ده۔ که هر څه وي خود شېخ عبدالله د ځوي "بايزيد انصاري" د امينې د بطن نۀ دے او پۀ دې کښې د کوم يو محقق هم اختلاف نشته د بايزيد نه علاوه هم د عبدالله يوبل ځوے ؤ چې هغۀ د بلې ښځې فاطمې نه ؤ، چې نوم ئې يعقوب ؤ۔ د بايزيد د مور امينې سره د شېخ تعلق پۀ دې خبره خراب شو چې عبدالله پۀ جالندر کښې نۀ اوسيدو او امينه پۀ کاڼي ګرم کښې د بن سره پۀ اوسيدو خوشحاله نۀ وه نو پۀ دې وجه د عبدالله او د بايزيد د مور پۀ مېنځ کښې بيلتون راغے او بايزيد ترې عبدالله د ځان سره پۀ کاڼي ګرم کښې ايسار کړو۔ د شېخ عبدالله او د امينې پۀ مېنځ کښې د بيلتون دا قيصه قاسمي صېب داسې نقل کوي:

"د دوؤ بنو ګزران پۀ خپلو کښې سره ډېر ګران وي۔ د قاضي عبدالله د پاره د بل ټبر راتلل يو ناګهاني حادثه وه۔ دۀ د بي بي امينې د پاره د فاطمې سره خپل جوړ هم نۀ شو خرابه ولے۔ او بي بي امينه هم د فاطمې پۀ مشرۍ کښې ژوند تېرؤلو ته تياره نۀ وه۔ چې د لارو حالت لړ سم شو۔ نو بي بي امينې د قاضي عبدالله نه ځان خلاص کړو او خپلې پلار ګنۍ ته(جالندر ته) راغله۔ او د رواج او د شرعي مطابق بايزيد د پلار پۀ تربيت کښې پاتې شو"[16]۔

قاسمي صېب دوېنا مطابق چې "د رواج او د شرعي مطابق بايزيد د پلار پۀ تربيت کښې پاتې شو" دا خبر د شرعي پۀ حواله درسته نۀ ده۔ ځکه چې پۀ شرعي توګه به هلک د اووه کالو او جينۍ تر نهو کالو پورې د مور د تربيت لاندې وي[17]۔ خودلته بايزيد انصاري د ۹۳۱ د حسابه پۀ ۹۳۷ کښې د شپږو کالو او د ۹۳۲ د حسابه د پينځو کالو پۀ عمر کښې پۀ خپل تربيت کښې واغيستو، چې يو غېر شرعي عمل دے۔ خو بعضې علماء د

شپږو کالو نه وړاندي هم د بچي د ايسارولو اجازه ورکوي، خو پۀ دي شرط چي د بچي د ضائع کېدو خطره وي، پۀ دي صورت کښي به هم دا فېصله فريقېن نۀ بلکه شرعي قاضي کوي۔ خو که د بايزيد انصاري د مور د طرف نه د نېکنی۔ اندازه ولګو ، نو هغۀ هم علمي کورنی۔ وه، نو د بايزيد تربيت هلته هم پۀ ښۀ ډول کېدے شو ، خو شيخ عبدالله داسي ونۀ کړل او بايزيد ئي د ځان سره ايسار کړو ، خو د هغي باوجود ئي د هغۀ تربيت هغه شان ونۀ کړو د کوم دپاره چي قاضي عبدالله د غېر شرعي عمل نه هم تېر شو۔ د عبدالله پۀ موجودګی۔ کښي د هغۀ سره مېرې مور داسي څه وکړل چي هغۀ د پلار نه هم زړۀ بدے شو۔ نو دلته د قاسمي صېب د شرعي دا خبره درسته نۀ ښکاري البته د رواج او د هندکو پښتو د وجي وئيلے شو۔

څنګه چي د هر پلار دا کوښښ وي چي خپل اولاد له د ښۀ تربيت او تعليم بندو بست وکړي، دغه شان شيخ عبدالله هم خپلو بچو له دا بندوبست وکړو:

"د قاضي عبدالله يو شاګرد ؤ پائنده، د هغۀ پۀ پوهه اوپۀ علم د قاضي عبدالله ډېر اعتبار ؤ۔ دواړه ځامن ئي هغۀ ته حواله کړل چي د وخت او هغه علاقي مروج علوم ورته وښائي۔ بايزيد به د هغۀ سره څه ناڅه لوستي وي"[18]۔

پۀ دي خبره کښي د روښاني ادب د ټولو محققينو هېڅ تردد او اختلاف نشته چي ګني بايزيد باقاعده زده کړي نۀ دي کړي البته د ډېرو او لږو متعلق اختلاف موجود دے۔ خو د فاضل مقدمه نګار دا خبره چي" بايزيد به د هغۀ سره څه ناڅه لوستي وي" دا د ډېرو خو لا پرېږده چي د لږو زده کړو پۀ باره کښي هم شکمن دے۔او پۀ دغه اتلسم نمر حواله کښي د "مروج " پۀ حاشيه کښي د حالنامي پۀ حواله د منيته المصلي او عمدة الاسلام ذکر کوي ، خو ښکاري داسي چي خپله ئي پري زړۀ اوبۀ نۀ ښتي۔ يار محمد مغموم صېب پۀ "روښانيان او پښتو ادب" کښي د فقهي مشهور کتابونو قدوري، او لباب الاخبار او د قرآن پاک د يو څو تفسيرونو د لوستلو او زده کړي ذکر کوي[19]۔

بايزيد د حج او علم زياتولو دپاره کوم چي د مېرې مور د ناکړدو او سکه پلار قاضي شيخ عبدالله د بې اعتنايي پۀ وجه نيمګړے پاتې ؤ،پوره کولو د پاره تلل غوښتل خو پلار ورته اجازه ورنۀکړه۔ دا واقعه قاسمي صېب داسي بيانوي:

"چي ځوان شو خپله(د علم) نيمګړتيا دۀ ته هم څرګنده شوه۔ پۀ دے هم پوهه شو چي پۀ خپل کور کښي علم زده کول ګران دي۔ او دا به ئي هم خيال ؤ چي پۀ دي زړه ليکه تلل زما غوندي هوښيار او ذهين سره نۀ ښائي د پلار نه ئي اجازت ؤغوښتو چي ځم چي حج وکړم او که قيسمت مي وي نو بل چرته به هم ديره شم د علم تکميل به هم وکړم۔ خو پلار ئي وئيل چي د حج دپاره توښه ضروري ده۔ چي خپل مال درسره نشته نو پۀ ګدا حج کول ثواب نۀ لري"[20]

د بايزيد د حج واقعه يار محمد مغموم صېب داسي بيانوي:

"قاضي عبدالله د خلقو د تنازعو او مقدمو فېصله کولو او پېسو ګټلو د پاره د خپل ځان پۀ شان د خپل ځوي بايزيد نه هم قاضي جوړول غوښتل مګر لکه بره چې ورته اشاره وشوه بايزيد پۀ دغه ناسازګارو حالاتو کښې خپل تعليم جاري اونۀ ساتلے شۀ هغۀ د حج کولو او تعليم حاصلولو اراده لرله مګر پلار ئې د داسې کولو اجازت ور نۀ کړه هغۀ به بايزيد ته وئيل چې،،تر څو زۀ اجازت در نۀ کړم ستا حج خدا ے نۀ قبلوي،،"[21].

د بايزيد د علم متعلق عبدالاکبر خان اکبر پۀ خپل کتاب "روښانيان د مغلو تاريکيان"کښې دا واقعه نقل کوي چې:

"بايزيد ابتدائي تعليم څه قدر د خپل پلارړ يو شاګرد پائنده نه حاصل کړے ؤ، کورني مشکلات ئې ډير زيات ؤ۔ د خرڅ خوراک نه به هم تنګ ؤ. دپلار سلوک ور سره ښۀ نۀ ؤ۔ د کورني د مشکلاتو سره به هغۀ د الله د قرب او معرفت علم حاصلولو کښې دومره محو ؤ چې د ځان بې خبرۀ، د اوچت ظاهري او باطني علم د حاصلولو دپاره هغۀ دپلار ډېر منت اوکړو۔ولې هغۀ ورله اجازت ور نۀ کړو۔عبدالله هغه مغلي اولاد پۀ مقابله کښې زيات شهرت او علم حاصل کړي۔هغه به ورله نۀ د حج او نۀ د علم دپاره د بل وطن ته اجازت ورکولو، د پلار ئې دا کوښښ ؤ۔ چې دے د فقهي علم اوکړي او چرته د حاکم پۀ کور کښې قاضي شي بايزيد دې ته غاړه نۀ کېښوده"[22].

د بايزد د پلار پۀ وينا د علم نه د انکار وجه مغموم او اکبر صېب د بيان تر مخه د فقهي علم ؤ، بايزيد دغه علم حاصلول نۀ غوښتل او د خوښې علم ته پلار د سفر اجازت نۀ ورکوو، نو بايزيد دغه د علم تنده ماتول غوښتل نو پۀ دې وجه هغۀ د سلوک لاره اختيار کړه چې هغه تنده ختم کړي او د الله خوشنودي حاصله کړي۔او د علم بنيادي مقصد هم دغه د الله رضا او خوشنودي ده۔

بايزيد د سلوک پۀ لار د تګ د پاره باقاعده لاس نيوه چې پۀ اصطلاح کښې ورته بيعت وائي د خپل تره شيخ خداداد د ځوي خواجه اسماعيل نه کول غوښتل خو پلارئې خوښۀ نۀ کړه۔ د خېرالبيان مقده نګار د بايزيد د بيعت د نۀ کولو د پاره وجه د شيخ اسماعيل ګمراهي ګڼي[23]۔خو عبدالاکبرخان اکبر داسې وائي چې پلار ورته دهمکي ورکړه چې که لاس نيوه دې اوکړه نو کور ته به دې نۀ پرېږدمه[24]۔خو مغموم صېب د شيخ عبدالله ، بايزيد ته د لاس نيوې اجازت نۀ ورکولو وجه دحالنامې پۀ حواله د شيخ اسماعيل علمي درجه او پۀ خلقو کښې د عزت او شهرت کمے پۀ مقابله کښې د خپل ځان بيانوي[25]۔

دلته د شيخ عبدالله پۀ شان يو علمي او عملي شخصيت پۀ دې وجه خپل بچے د علم نه منع کوي چې د چا نه هغۀ زدکړه کول غواړي هغۀ د ده نه پۀ درجه او شهرت کښې کم دے۔پۀ اخلاقي او ديني توګه درسته خبره نۀ ښکاري۔

بايزيد چې کله د رياضتونو نه بعد د سلوک او اصلاح تلقين شروع کړو نو شروع ئې د خپل کور نه وکړه۔اول تلقين دخپلې طريقې ئې خپلې بي بي ته وکړو[26]۔ دا خبره قاسمي صېب ته نااشنا ښکاري چې بايزيد يو نااشنا کار وکړو او صرف پۀ دې اکتفا نۀ کوي بلکې د دې سره د نورو جدّتونو هم قائل دے چې د دۀ پۀ مريدانو کښې

د سړو سره ښځې هم شامل وې[27] ـ قاسمي صیب دلته دا نکته د بایزید د کمزورۍ په توګه وړاندې کوي خو زما په خیال دا نه غلطه ،او نه نااشنا ده، بلکې د تصوف په تاریخ کښې داسې ډېر مثالونه موجود دي چې غټ مثال ئې شبکته البصریه ده چې په تصوف کښې د خپل وړور ملګرې وه[28]ـ نو په دې تناظر کښې دا څه رقم نوے جدّت نه دے۔بله خبره چې فاضل مقدمه نګار پرې نیوکه کوي هغه د سماع متعلق چې د وخت علماؤ پرې د ګمراهۍ فتوې وې ـ خو بایزید به وئیل چې ماته الهام شوے[29]ـ دلته خالص پیر روښان په دې ملامته کول ناانصافي ده ځکه چې دا اختلاف د علماؤ په مېنځ کښې موجود دے، او دې اختلاف ته شېر افضل بریکوټي هم په خپل کتاب " بایزید انصاري پیر روښان" کښې اشاره کړې ده[30]ـ چې د علماؤیوه ډله ئې ناجائزه او بل ئې جائزه ګڼي۔ په صوفیاو کښې سماع د خاص شرائطو سره جائز ده۔ او قاسمي صیب چې کومه خبره د بایزید د الهام په حواله ذکر کړې چې سماع په درې قسمه ده ، حلال، حرام، او مباح، دا اقسام د سماع امام ابوحامد محمد الغزالي په "کیمیائے سعادت" کښې هم ذکر کړي[31] نود کلام خلاصه دا ده چې سماع د علمائے تصوف په نزد ناجائز نه ده۔ خو پته نشته چې قاسمي صیب ولې دا خبره قابل ګرفت او موجب طنزګڼي؟ د دې خبرې نه داسې معلومېږي چې د الهامي دخل ذکر د دې طنز بنیاد دے خو ولي الهام حق دے چې علماء ئې قائل دي البته د صریح حجت اود صریح شرک، غلو پکښې دواړه طرفېن کوي [32]ـ الهام د بل دپاره چونکې دلیل نه شي جوړے دے او چاته چې شوے وي او د هغې مطابق هغۀ یو عمل اوکړي نو هغۀ پرې قابل ګرفت هم نه وي۔

ګیان چند په خپل کتاب" تحقیق کافن" کښې د محقق په اوصافو کښې یو وصف دا ذکر کړے چې دے به غېر جانبدار وي[33]، خو دلته د مقدمه نګار غېر جانب داري په نظر نه راځي او ددې اندازه به د دې خبرې نه په اسانه ولګول شي:

"ټولو دپاسه زیاتې خبره دا چې دۀ به وئیل چې یو زۀ او زما مریدان په سمه لار یو۔ زمونږ نه سېوا نور څوک چې دي هم ګمراه دي او هم د شرک په پلیتۍ ابته دي"[34]

که د خېرالبیان مطالعه په غور وکړےشي نو داسې قسمه خبرې ترې نه ظاهرې کېږي چې ټول خلق مشرکان ګڼي۔ او شیر افضل بریکوټي هم د قاضي خان سره په مکالمه کښې دا خبره ذکر کړې ده او هغه ترې انکار کړے البته دا خبره ئې کړې چې زه هادي یعنې لاربنود یم چې خلقوته د رسول صلي الله علیه وسلم علم او لار ښائم او مریدانو ته د توحید لار وربنکاره کوم اود ګمراهۍ او شرک نه ئې منع کولو کوښښ کومه[35]ـ دې نه پسته دا خبره کول چې ټول مخلوق ئې داسې ګڼو بې بنیاده خبره ده چې د جانبدارۍ شائبه ښکاره کوي۔ داسې قسمه اندازه، د مقدمه نګار د خبرو او اندز نه په دې مقدمه کښې ځاے په ځاے ډېره په اسانه کېږي۔

د قاسمي صیب د ډېرو خبره سره اختلاف په خپل ځاے خو د بایزید دا عمل چې پلار ته په حلقه کښې دشمولیت کوم دعوت ورکړے د صوفیاؤ د مزاج خلاف دے، ځکه چې د تصوف علم فرض او واجب نه دے چې دا رنګه تبلیغ ئې وکړے شي۔ د بایزید د طریقه کار سره اختلاف کېدے شي او محققینو کړے هم دے خو د هغۀ د کفر او الحاد او د اسماعلیه نظریاتو متعلق چې کومې رائې قایم شوې هغه که د نورو کتابو نه علاوه صرف د خېرالبیان په تناظر کښې جائزه واغستلے شي نو هم دا ترې نه ثابتېږي۔ او غټ ثبوت د دې خبرې بل دا دے چې

که روښان کافر وے اود اسلام د صريح احکامو خلاف روان وے نو د وخت علماؤ به هغهٔ پهٔ مباحثه کښې ملامته کړےوے۔ خو چا هم داسې ونهٔ کړے شو۔ ځکه چې د هغهٔ سره کومې مباحثې شوې نو قاسمي صېب او افضل خان خټک ئې ذکر کړے دے۔ قاسمي صېب دا ذکر داسې کوي:

"تر دې چې ملايانو ورپسې ډلې راوستې مناظرې ئې ورسره کولې خو بايزيد هوښيار سړے ؤ چا پهٔ بحث کښې غلے کولے نهٔ شو"[36].

او هم دا واقعه افضل خان پهٔ تاريخ مرصع کښې داسې ذکر کوي:

"پهٔ هر لو د هغه وخت علماؤ ته ځواب و سوال وهٔ چې راځئ زهٔ پير کامل يم تاسو به پهٔ مراتب اعلیٰ ورسوم۔ ځان ئې پهٔ پير روښان مقلب کړ۔ شائد چې پهٔ هغه وخت اخون درويزه چې پهٔ هغه وخت لوے ملا هم دے وهٔ راغے مباحثه ئې ورسره وکړه۔ اما پهٔ هغه وخت غلبه د حکام هم پهٔ دا ملک نهٔ وه، معامله ئې سره فيصله نهٔ شوه" [37]

پهٔ مناظرو کښې د علماؤ د ناکامۍ بنياد قاسمي صېب د بايزيد هوښيارتيا او افضل خان د حکامو عدم غلبه ګڼي، چې پهٔ هيڅ جوړ درسته خبره نهٔ ده۔ ځکه که د حکامو غلبه نهٔ وه نو قاضي خان دے خنګه دربار ته حاضر کړو؟ د هغه وخت دعلماؤ پهٔ مباحثه کښې ناکامې د دې خبرې غمازي کوي چې روښان پهٔ علمي توګه مضبوط موقف درلود او د دلائلو پهٔ ميدان کښې د هغهٔ د مقابلې ثوک نهٔ وو۔ ځکه چې د عدم دلائلوپهٔ صورت کښې تش د هوښيارتيا پهٔ بنياد ثوک د چا علمي موقف نهٔ شي بدلولے۔

دا مقدمه قاسمي صېب د يو محقق پهٔ طور وړاندې کوي خو پهٔ دې کښې دے ځاے پهٔ ځاے داسې غيرضروي او طنزيه رائے[38] وړاندې کوي چې دمحقق منصب پرې مجروح کېږي خو د دې باوجود پهٔ مجموعي توګه دا مقدمه ډېره خوندوره او طويل ده۔ چې پکښې د بايزيد د ژوند او جدوجهد پهٔ حواله ډېر ګټور او نادر معلومات ډېر پهٔ ساده او سپېڅلي انداز وړاندې کړې چې پکښې پهٔ بعضې ځايونو کښې د بعضې الفاظو لهجوي رعايت هم کړے شوے دے چې د بيان د ښکلا سبب جوړېږي

حواله جات

---

[1] : سحر يوسفزے، ادب څه دے، شعيب سنز منګوره سوات، کال ۲۰۲۱، ص ۱۱۲.

[2] :کمال ،محمد اشرف، تنقيد کادائره، نشنل بک فاونډېشن اسلام آباد، کال ۲۰۲۰، ص ۱۵.

[3] رضا ،محمد افضل، د پښتو د نثر تاريخ،يونيورستي بک ايجنسي پېښور،چاپ درېم،کال ۲۰۱۳،ص۸۲.

[4] : عبدلحی حبيبي ،پوهاند، د پښتو ادبياتو تاريخ ،دوېم ټوک ، خپروندوي دانش خپرندويه ټولنه ،درېم چاپ ۱۳۹۸ل۔ ۲۰۰۵ز، ص نمبر ۲۲۴.

[5] :خټک، مغموم، يار محمد ، روښانيان او پښتوادب،پښتو اکېډمي پېښور، کال۲۰۱۱،ص۸۴او ۱۰۹ .

[6] : بايزيدانصاري ، خيرالبيان ، ترتيب و تدوين او حواشي حافظ،عبدالقدوس قاسمي، پښتو اکېډمي پېښور يونيورستي ، دريم چاپ ۲۰۱۸، ص ۲۲،۲۵ .

[7] : خټک، مغموم، يار محمد ، روښانيان او پښتوادب،پښتو اکېډمي پېښور، کال۲۰۱۱،ص۲۹۴ .

[8] : هم دغه، ص ۲۹۵ .

9 : بايزيدانصاري ، خيرالبيان ، ترتيب و تدوين او حواشي حافظ،عبدالقدوس قاسمي، پښتو اکېډمي پېښور يونيورستي ، دريم چاپ ۲۰۱۸، ص۲۷.

10 : هم دغه، ص هم دغه.

11 : هم دغه، ص ۴۰.

12 : طائر،محمدنواز، روهي ادب، پښتو اکېډمي پېښور، ايډيشن ندارد، کال ۲۰۲۰، ص۱۳۱.

13 :ظفر، بهارد شاه ، سيد ، پشتون تاريخ کے آئینے میں، يونيورستي بک ايجنسي ،کال، ۱۹۸۱،ص ۴۸۸.

14 : بايزيدانصاري ، خيرالبيان ، ترتيب و تدوين او حواشي حافظ،عبدالقدوس قاسمي، پښتو اکېډمي پېښور يونيورستي ، دريم چاپ ۲۰۱۸، ص۳۹.

15 : خټک، مغموم، يار محمد ، روښانيان او پښتوادب، پښتو اکېډمي پېښور، کال۲۰۱۱، ص ۱۱۳.

16 : بايزيدانصاري ، خيرالبيان ، ترتيب و تدوين او حواشي حافظ،عبدالقدوس قاسمي، پښتو اکېډمي پېښور يونيورستي ، دريم چاپ ۲۰۱۸، ص۴۱

17 : WWW.darululom-deoband.com، جواب نمبر۱۹۷۵۵،فتوی(م): ۳۴۵=۳۴۵-۳/۱۴۳۱.

18 : بايزيدانصاري ، خيرالبيان ، ترتيب و تدوين او حواشي حافظ،عبدالقدوس قاسمي، پښتو اکېډمي پېښور يونيورستي ، دريم چاپ ۲۰۱۸، ص۴۱.

19 : خټک، مغموم، يار محمد ، روښانيان او پښتوادب، پښتو اکېډمي پېښور، کال۲۰۱۱، ص۱۱۹.

20 : بايزيدانصاري ، خيرالبيان ، ترتيب و تدوين او حواشي حافظ،عبدالقدوس قاسمي، پښتو اکېډمي پېښور يونيورستي ، دريم چاپ ۲۰۱۸،ص۴۲.

21 : خټک، مغموم، يار محمد ، روښانيان او پښتوادب،پښتو اکېډمي پېښور، کال۲۰۱۱، ص۱۲۱.

22 :اکبر خان ، عبدالاکبر،روښانيان د مغلو تاريخيان مقدمه او حواشي سيد شبر حسن شيراز، ناشر ادب محل ستي تاور کابلي بازار پېښور،ص ۳۲.

23 : خټک، مغموم، يار محمد ، روښانيان او پښتوادب، پښتو اکېډمي پېښور، کال۲۰۱۱، ص۴۴.

24 : اکبر خان ، عبدالاکبر،روښانيان د مغلو تاريخيان مقدمه او حواشي سيد شبر حسن شيراز، ادب محل پېښور،ص ۳۲.

25 : خټک، مغموم، يار محمد ، روښانيان او پښتوادب، پښتو اکېډمي پېښور، کال۲۰۱۱، ص۱۲۲.

26 : بايزيدانصاري ، خيرالبيان ، ترتيب و تدوين او حواشي حافظ،عبدالقدوس قاسمي، پښتو اکېډمي پېښور يونيورستي ، دريم چاپ ۲۰۱۸،ص۴۷.

27 : همدغه

28: https://www.mukaalma.com/14793/ ، مجاوری، مفتی محمد مشتاق، صوفی خواتین کا ایک تذکرہ(۲۰۱۷.۱۲.۲)، بوقت ۱۲:۴۲،بتاریخ ۲۰۲۳.۰۳.۱۸

29 : همدغه

30 :بريکوټي،خان، شبر افضل ، بايزيد انصاري پير روخان، ملت ايجوکيشنل پرنټرز لاهور، ص ۲۴۴.

31 : الغزالي،محمد،ابوحامد،کیمیائے سعادت، مکتبه رحمانیه، سن اشاعت ندارد،ص ۲۹۳تا ۲۹۷.

32 : www.urduweb.org، کشف و الهام کي حقيقت، از حسيب احمد حسيب، بتاريخ، ۲۰۲۲.۱۲.۲۵، بوقت ۱:۳۰.

33 : گیان چند، تحقیق کافن، سیونټه سکائي پبلکېشنز لاهور،ص۳۸.

34 : بايزيدانصاري ، خيرالبيان ، ترتيب و تدوين او حواشي حافظ،عبدالقدوس قاسمي، پښتو اکېډمي پېښور يونيورستي ، دريم چاپ ۲۰۱۸،ص۴۷.

35 : بريکوټي،خان، شبر افضل ، بايزيد انصاري پير روخان، ناشر،ملت ايجوکيشنل پرنټرز لاهور، ص۱۱۱.

36 : بايزيدانصاري ، خيرالبيان ، ترتيب و تدوين او حواشي حافظ،عبدالقدوس قاسمي، پښتو اکېډمي پېښور يونيورستي ، دريم چاپ ۲۰۱۸،ص۵۲.

37 :افضل خان، تاريخ مرصع،يونيورستي بک ايجنسي پېښور، ايډيشن ۵،ص ۲۹۱.

38 : خټک، راج ولي شاه، د پښتو ادبي تحريکونه، پښتو اکېډمي پېښور، ايډيشن دويم ،ص ۷۷.